# Pakhtunkhwa " پښتونخوا "

## د پښتنو ټولنیز ولسولیز ګوند خپرونه

## PASCHTUNCHWA / PASHTOONKHWA

ORGAN DER SOZIALDEMOKRATISHEN PARTEI DER PASCHTUNEN

ORGAN OF THE PASHTOON SOCIAL DEMOCRATIC PARTY (PSDP)

www.pashtoonkhwa.com



" پښتونخوا " لومړی کال لومړی ګڼه { پښتو} 1987ع کال


خپرونکی: د پښتنو تولنیز اولسولیز گوند
پښتونخوا / افغانستان

HERAUSGEBER: SOZIALDEMOKRATISCHE PARTEI DER PASCHTUNEN
PASCHTUNCHWA / AFGHANISTAN

PUBLISHER: PASHTOONS SOCIAL DEMOCRATIC PARTY
PASHTOONKHWA / AFGHANISTAN



زمه وار :

V. I. S. P.:

RESPONSSIBLE FOR CONTENTS:

دوکتور کبیر ستوری
DR. KABIR STORI
HÖNINGER WEG 63
5000 KÖLN 51
WEST GERMANY
TEL. (0221) 360 2472



د خپرونی جرگه
REDAKTION
EDITORS BOARD

ALI KHAN MAHSOOD علیخان محسود
HIDAYAT BANGASH هدایت بنگش
HABIB STOMAN حبیب ستومان
KHAN SAPI خان ساپی
SHAHJAHAN شاجهان

سرلیکونه مخ


| | |
|---|---|
| د افغانستان لوی وده | ۸ |
| په لویدیز جرمنی کی د خان لالا محمد افضل خان | |
| د شنفرلند رالوېدل | ۲۶ |
| د خبریالانو تر وړاندی د خان لالا محمد افضل خان وینا | ۲۸ |
| د فرانکفورټ په لوړه غونډه کی د افضل خان وینا | ۳۴ |
| د خدای بخلی افضل لنگینس په یاد | ۴۶ |
| لوی زیری | ۴۹ |
| شاعرته | ۵۱ |
| د سورلو سپانو دود | ۵۳ |
| د لیلا و زړو | ۵۲ |

د پښتونخواه خبریال : هدایت بنګش

# د افغانستان لوی وده

د دې موضوع په هکله د پښتنو د ټولنیز اولسولیز ګوند نمایندګانو
د ګوند مشر ډوکتور کبیر ستوری او د ګوند د مشر مرستیال علی خان
د ۱۹۸۷ کال د فرورۍ د میاشتې په دولسمه نیټه په بن کښې د ټولنیز فلمي
په میلمستون کښې مطبوعاتي کنفرانس ورکړو. د دغه کنفرانس ته د
ختیځ او لویدیز لوی زیات شمیر خبریالان راغلي وو. د کنفرانس
په پیل کښې د پښتنو د ټولنیز اولسولیز ګوند مشر ډوکتور ستوري
خبریالانو ته د هر کلي څخه وروسته د افغانستان د لوی ودې په
هکله لنډه وینا وکړه. وروسته د خبریالانو پوښتنو ته د ګوند مشر
ډوکتور کبیر ستوري او د ګوند لومړي مرستیال علیخان مسعود ځوابونه
ورکړل.

## د ډوکتور کبیر ستوري د وینا متن

درنو ورونو میرمنو او میناغلو!، زما په وطن افغانستان کښې

هره ورځ بې ګناه انسانان وژل کیږي او هیواد ورځ په ورځ کنډواله
او تباه کیږي. دغه جګړه چه شوروي اتحاد پکښې د خپلو پوځونو
د موجودیت د لارې مستقیمه او د امریکې متحده ایالتونه پکښې د
پاکستان پوځي ډکتاتور د لارې غیري مستقیمه برخه لري او
پدې منځ کښې ئې بین المللي او تجارتي بڼه غوره کړیده نتیجه ئې
د اندیښنې وړ او لمنځه وړونکې دی.

د پښتنو لمړولیز او لسولیز ګوند - پښتونخواه / افغانستان
د رهبري موږ د ی راهیسې د دې نظرې نماینده ګي کوي. چه د
د افغانستان د ربړې حل یوازې د سوله ایزې لارې امکان لري. او
د پوځي لارې هیڅ امکان نه لري. پدې هکله موږ خپل د سولې
لوښتونه څوځله د ملګرو ملتو منشي د ځینې یو زیات شمیر د
بهرنیو چارو وزیرانو ته د سترو قدرتو د بهرنیو چارو
د وزیرانو په شمول او د عامه ثروند نامتو شخصیتونو ته
وړاندې کړیدي. پدې منځ کښې په شوروي اتحاد او په
افغانستان کښې لوګمنشتر تا به حکومت کوي. او داسې بریښي
چه دوي هم د سیاسي حل ضرورت پیژندلی دی. ځکه
موږه د مخه د شوروي اتحاد د ګوند مشر ګورباچوف
اعلان وکړ چه خپل پوځونه به ژر تر ژره وکاږي.

که چیرته یو سیاسي حل پیدا شي .

همید غنی د کابل څخه هم نیمړی وال لوی غبرګونه اوري . په ډاګه سره د ګوند اوسنی مشر ډاکټر نجیب الله وویل چه حیلي تر سره شوي ندي . اولس ته د ډوډۍ په ځای ګولۍ ، د جامو په ځای کفن او د کور په ځای هدیره ورسیده .

ډوکتور نجیب د ملي روغې جوړې او مقاومت کوونکی ډلو ته ئې د شپږ میاشتنی اوربند پیشنهاد وکړ او د خبرو د پاره ئې بلنه ورکړه

زمونږ ګوند ته هم د ډاکټر نجیب له خوا د نظریو د بدلون د پاره میلمستیا ورکړ شوې ده . مونږ دغه میلمستیا و منله ځکه چه مونږ پدې عقیده یو . چه افغانان بایده دی چه د افغانانو سره خبری وکړي که څه هم د خبرو ملګری په بله نظریه وي نسبت هغه ته چه مونږ ئې لرو.

وروسته د یوی لومړنی کتنې څخه چه زمونږ د ګوند د یوی ډله ګډه او د افغانستان د خلک د ډیموکراتیک ګوند د نمایندګانو تر منځ په کابل کښی وشوه غواړو چه لوړا خبری یو د بل سره وکړو .

د خبرو د نتیجو پورې وا ایره لري. چې په کومه اندازه سره کمکان مینځ ته راتلی شي. د پښتنو ټولنیز او لسولیز ګوند د هغه ټولو پیشنهادونو هرکلی کوي چه د سولې په خدمت کښې وي. او دې ته انتظار لګیا دی. چې آیا ډاکټر نجیب واقعاً ملي روغه جوړه غواړي.

دې ته ډیره اړتیا ده او مونږ ته یو افغني لاره برابرېږي چه مخکښې یا وروسته به ډېرې ستړې خاخانۍ ترڅو چه په افغانستان کښې جګړه پای ته ورسیږي.

سربیره پر دې ځما په هیواد کښې د روغې جوړې لفظ کوم پر دې تلي نه دي. روغه جوړه د افغاني عنعنوي ټولنې یو مکمله برخه ده چې جرګه د دې د پاره یوه وسیله ده. د یوې دایمي سولې او روغې جوړې د پاره د هغه رهبرو او بې عدالتیو د منځه وړل لګیا دي چې د پخوانې باچاهۍ حکومتونو له خوا مینځ ته راغلي او لا تراوسه حل شوي نه دي د دغه وخت را هسې سیاسي او اقتصادي ګواک د افغانستان ناستوني کابل ته راغونډ شوي دي،

د ښار او د کلیو د وګړو په منځ کښې تضاد ختم دی. د ډېرو اولسونو
په هیواد افغانستان په قوم کښې چه پښتانه، ازبکان، تاجک،
هزاره، ترکمن، بلوڅ او داسې نور ګډ ژوند کوي، نن
ورځ دا ضروري دي چه د هیواد په اقتصادي او سیاسي
ژوند کښې ټولې ټولنیزې ډلې په عادلانه توګه برخه ورکړي.
دا هم ضروري ده چې په افغانستان کښې هرې اولسي ډلې ته
د خپل شمېر سره سم کلتوري او ژبني حقوق ورکړی شي او د دوی
ته د خپلو ماشومانو روزنه په خپله مورنۍ ژبه کښې
امکانات شي، دا باید په نوي اساسي قانون کښې هم ولیکل
شي.

درنو میرمنو او ښاغلو! د وخت سخت ضرورت
چې ژر تر ژره پریکونکي کارونه سر ته ورسیږي
ترڅو چه دا اولس د رڼه پائي ته ورسیږي. ترڅو چه
په افغانستان کښې وروسته د اوو کالو د جګړې څخه
ژوند عادي بڼه غوره کړي کډوال بېرته خپل وطن ته
ستانه شي او ماشومان بل آخره په ښوونځیو کښې زده کړه
وکړی شي. زه دا خبره په ډېره اندېښنه سره کوم چه

تر چېرته اوسني حالت له ډېر دوام وکړي. لږ بيا به نيم لېوال
د ليوي بلي رهبري سره مخامخ شي. دغه رهبره هغه ماشومان
دي. چې د کمې والو په استوګنځيو کښې په نا خبري کښې لوټيږي.
دوی د بې رحمانه شرايطو لاندې ژوند کوي. د دوی د لوبو
مشيان لمټوپک دي ، د لمټوپک د چلولو سره که دوی غواړي
او که نه آشنا کيږي. دوی ليواځې وژنه او جګړه پېژني.
لوړيات شمشير د دوی د جګړي د زخمونو له املې ګوډ او شل
شوي دي. بې له راتلونکي د امېد څخه په ځمکو او اندېښنو کښې لوټيږي.
دغه د ځوانانو ټول هغه څواک دی لکه څنګه چې په ثبوت رسېدلی ده له
اوس نه د اسې د هدف ډله ده چې په شعوري توګه د ايمه ماشومان روزل
کيږي. دلته يو ډېره خطرناکه سلسله پيل شوي ده. مونږ په ټمري
کښې د لمتولو سره غوښتونکو انسانانو څخه داهيله کوو. چه زمونږ
په ملاتړ سره په دوامداره ستره وقدرو تولو زور او فشار راولئ ترڅو
چې يو آزاد، خپلواک، ناپېيلي او سوله اېز افغانستان مېنځ ته راشي.
مونږ د خپل اولس د پاره داهيله لرو چې د شوروي اتحاد د ګوند
د مشر دا خبره چې خپل پوځونه د افغانستان څخه ژر تر ژره
وکابزي او د افغانستان د ګوند د مشر ډاکتر نجيب

د روغې جوړې پېشنهاد او س د عمل جامې واغوندي .
د نومېر منو او مناعلو تاسو څو تنو سره په دې توګه
هر سته سرته ورسوي چې په خپلو خپرو لو کښي تل
بيا بيا د افغانستان رهبرۍ ته ګوته ونيسي .
افغانستان او د هغه خپل شوري انسانان نور
دې ته مه پرېږدي چې وو ژل شي .
ستاسو د علاقې او پاملرنې څخه ډېره منته .
پوښتنه :- ښاغلي ډاکټر ستوري ، دلته څرګنده
شته دي چه نجيب الله او د هغه د همکارانو سره
ئې د نظريو بدلون کړی وی . زه غواړم چه پلوی
پوه شم چه ستاسو او د کابل د حکومت ترمنځ
کښې کوم توپيرونه او کوم ګډې ټکي شته دي .؟
علي خان مسعود :. زه د ۱۹۸۶ کال د نومبر د دوهمې نيمې
څخه تر پنځلسمې نيمې پورې په کابل کښي وم .
هو زه د ګوند د مشر ډاکټر نجيب ، د قومونو
او قبايلو د چارو د وزير سليمان لايق او
د سياسي دفتر د غړي خيبري او د نورو

بسره خبري کېږېدي .

زموږ ډګوند او په افغانستان کښې د حکومت ګوونلي

ګوند د نظریو اختلاف پېدا کښې دي چه موږ

پدې عقیده یو چه تر څو پورې چه شوروي

عسکر په افغانستان کښې وي دغه د افغانانو د پاره

یو اصلي ربېړه ده . موږ د دې غوښتنه

وکړه چه شوروي عسکر د افغانستان څخه

هرومرو ووزي .

موږ دا خبره هم هلته څرګنده کړېده چه افغاني

ټولنه دې ته تیاره نه ده چه کلاسیک سوسیالزم

ومني . سوسیالزم لېرانزي د انسان هیله

نه ده بلکه یوه تاریخي پروسه ده .

زه پدې عقیده یم چه پدې منځ کښې شوروي

پوځان او هم په افغانستان کښې واکمن پدې

پوهیدلي دي چه داسې د اول څخه سمه

نه وه چه د ختیځې اروپا ماډل په افغانستان

کښې عملي شي

دوئ پدی هم پوهیدلی دی چه د ځمکی ویش یوه
غلطی وه. کیدای شی چه په شمالی افغانستان کښې د
ډیرو ځمکو خاوندان وی خو پکتیا او ننګرهار کښې نشته
دی. بله دا چې دوی په لومړی سر کښې غوښتل چه کټ
مټ مارکسستی لیننستی نظریه عملی کړی. خو اوس
پدی پوه شوی دی چه دغه نظریه دومره قوی کیدلی
نه شی. لکه څومره چه کورنی او قومی اړیکی دی.
د مثال په توګه په پکتیا کښې که د چا ځوی کمونست
و او پلار ئی کمونست نه وُ او پلار ورته وویل
چه راځه اوس مونږ کډه کوو نو ځوی ئی مجبور وچه
ورسره لاړ شی.

دافغانستان د ګوند مشر نجیب مونږ ته وویل چه
دی غواړی په افغانستان کښې واقعی سوله راولی
مونږ دده په خبرو داسی پوه شوی یو چه
دی دافغانستان انقلاب ته کوم مارکسستی
لیننستی انقلاب نه وائی بلکه یو ملی ډیموکراتیک
انقلاب وائی.

په ملي ډیموکراتیک انقلاب کښې د نظرۍ له مخې ټولې ملي
د ملي پانګه والې څخه نیولې ترکوچنی دوکاندار پورې
برخه لري.

کوچنیز په تیره بیا امریکایان د پاکستان د ډکتاتور
ضیاء الحق د لارې هغه کمپرډر تقویه کوي. چه نه غواړي
دافغانستان څخه د شوروي یوځوانه وورزي. چه دې
منځ کښې دوئ تجارت او دوکالونه پېرا اشتل دي که
د شوروي یوځونه وورزي لیو د دوي کالونه هم نه بیرزی بیه دغه
دوکالونو او تجارت کښې د پاکستان بیروکراتان
په اصطلاح د کمپ والو کمشنري او افغان ملاګان برخه لري
مونږ چه دي عقیده یو چه ګوربا چوف نسبت چرنکو
او یا بریژنیف څخه بالکل توپیر لري. مونږ چه دي
عقیده یو چه ګوربا چوف غواړي چه خپل پوځیان
دافغانستان څخه وکاږي - خو د ګوربا چوف څخه
مخکنیو مشرانو د اغلطي کړیده او اوس ګوربا چوف
خپل پوځونه وکاږي خو بیلدي نه چه سپک شي.
د پښتون سوشل ډیموکریټک ګوند یو منځنی ګوند
دي چه پو فیلو اک افغانستان غواړي.

ملایان دافغانستان په حکومت استفاده کوی خو فیصله د ایات الله
خومایني په شان د لاپیسئ افراطي بنهي حصه کوي . چه
دافغانستان اولس د پاره د منلو وړ نده . مونږ نجیب
ته وایو چه ملاسیکي لاره سمه نده او ملایانو ته وایو
چه خومانیزم سمه لاره نده . مونږ د یوه مترقي
سوسیالزم مخه نکه د ملا په شان نه نیسو .
مونږ دا هم نه غوایو ونکه قسنګه چه کمونستانو په لومړی سر کښې
غوښتل چه افغانستان ته بیلدی نه چه د دغې لمتولنې جوړښت
په بام کښې ونیسي شوروی تغییر ورکړي . مونږ نه عصري
وخت او نه اسلام رد وو . اسلام د زړو کالو را
هیئی د غلته پاتی شوید ے او اوس نه مونږ د
کلتور یوه برخه ګرځیدلی ده . مونږ د خدائی او د
رسول سره جګړه نه لرو . زمونږ جګړه د بیرته
پاتي والي ، بي سوادی په ضد او د اولس د
هوسائی د پاره ده . نجیب مونږ ته ثابته کړه چه
دوئ د دین په ضد ندی خارجي په لومړی سر کښې
شوید ی حصه شوید ی . بیدا ی تګلو کښې هغوئ
نه مونږ سره کوم اختلاف نلرو .

د خلک د ډیموکراتیک ګوند لوړ لوړ کسانو چه زموږ
سره خبری کړیدی موږ ته ویلی دی چه دوی
غواړی چه د شوروی پوځونه ووزی کله چه بهرنی
ګوتی وهنه بندی شی . پدی شکله موږ هم خبری
کړیدی چه بهرنی ګوته وهنه څه ته وائی . دوی
وویل چه کله چی په پاکستان کښی د لوڅی تمرین
ځالونه بند شی . امریکایان ، پاکستان او ایران
موږ ته دوی ضمانت راکړی چه ملاتړانو
ته وسلی نه ورکوی او افغانستان ته ئی
نه رالیږی

**پوښتنه** :- تاسو په افغان اولس کښې خپله خپل قوت
څومره اټکل کوی ؟

**ستوری** :- موږ د یوه ملی آزادی بخونکی غورځنګ
یوه برخه یو - چه زموږ د ملی مشر غفار خان
"فخر افغان" په عنعنه ولاړ دی سر بیره
پردی د ګوندولو تاریخ او دود په افغانستان

کښې د پېرنۍ او ځوان دي په لومړي سر کښې په
افغانستان کښې هیڅ ګوند ونه نه و. ځکه چه ګوندونو ته منع ته
راغله نو بیا ورته اجازه نه وه که څه هم د باچاهي
په وخت کښې مونږ یو پارلمان درلو خو پارلماني
ډیموکراسي نه وه. د داؤد په وخت کښې دغه
پارلمان هم ړنګ شو. او یوازې یوه ګوند ته
اجازه ورکړې شوه چه دا د هغه ګوند و او د "ملي غورځنګ"
نومېده. د داؤد د منځه تګ په ثبوت ورسوله چه
په افغانستان کښې یو ګوندیز سیستم چلیدی
نه شي او که نه نو د داؤد د "ملي غورځنګ"
ګوند به چلیدلی وي.

په افغانستان کښې یو ستر قدرت ملکان او
خانان وو او یا تر اوسه پورې دي ځکه چه یو
ملک او یا خان نسبت یو ګوند ته ډېر څه کولی
شي. څنګه چې زه مونږ په ګوند کښې ملکان
او خانان د منورینو سره ګډ سمار کوی او
راټول شویدي. نو مونږ په افغانستان

کښې او هم په کوزه پښتونخواه کښې د خپل ګوند د
پاره ښه چانس پراخ بنسټ او راتلونکې
وینو. زمونږ ګوند هم په کوزه پښتونخواه او
هم په بره پښتونخواه یا افغانستان کښې غمري
سرې. زما ملګری علی خان د کوزې پښتونخواه
او زه د افغانستان یم.

**پوښتنه**:- ګله چه تاسو په پښتو دومره ډیر ټینګار
کوئ نو په ځان هزاره، تاجک، ازبک
او بلوڅان بې اعتماده کوی نه؟

**ستوری**:- نه، ما خپلې وینا کښې هم تاجکو، ازبکو،
ترکمنو، هزاره او بلوڅو ته د حقوقو ورکولو
غوښتنه کړیده. د دغه لږه کیو (اقلیتونو)
حقوق د باچاهی په وخت کښې لوټ شوی دی.
ګله چه سړی واقعاً د ملی روغې جوړې تحت
خبری کړی نو بیا اسمارده چه خاخا دغه
لږه کیو ته خپل جمهوریتونه (ریپبلکن) ورکړی شی
ترڅو چې خپل ماشومان د خپله مورنی ژبه

وړ وړانې شي . په مطبوعاتو کښې هم بايده دي
چه دوی ته ځانګړې برخه ګوښې ګوښې ورکړل شي.
زه پدې باندې ډیر افسوس کوم چه د لیو
شمیر دغه برخه کیو شاباه لا د لیک تربه نده ګرځیدلی
دوی د چاره لیکوال دي چه کار او ښتی ترڅو چې
دوی خپل ملتوري او ژبنې هویت وساتلی شي



**پوښتنه** :- نجیب الله د افغانستان څخه د شوروي پوځونو د وتلو په باره کښې پامشخصه توګه څه ویلي دي کله او په څومره موده کښې چېرې هغه ته فکر کوي ؟

**علیخان محسود** :- ما د نجیب الله سره پدې هکله خبرې کړي دي. یو پیشنهاد د پاکستانیانو یا ضیاء الحق له خوا چې وائي . په دره یا شپږ و میاشتو کښې دې د شوروي پوځونه د افغانستان څخه ووزي . دا تمام امکان نلري دا یو غیري عاقلانه پیشنهاد دے . ځکه چه په کابل کښې د وی د پاره په اوسني وخت ادارے او تشکیلات نه شته دي . کله چې لږ د تشکیلاتو او اداره څخه درې ملیونه افغانان په دومره لنډه موده کښې افغانستان ته بیرته راشي نو ګډوډي به جوړه شي دغه ګډوډي به د آخرلو الو تالولو څخه زیاته وي . ډاکټر نجیب وائي چه د شوروي پوځونو د وتلو د پاره د ۱۸ میاشتو څخه نیولې تر ۲۰ میاشتو پورې وخت لګیدی . د تخنیکي پلوه دا داسې کیدی شي چه هر څومره د پوځي تمرین ځایونه تمرل

کیږي په صحو مره اندازه سره د شوروي پوځونه
به وزي او یا هم دغه تناسب به کم وال شي بېرته
خپل وطن ته راشي تر څو چې د حکومت د وسله
والو وي چه ضروري مرستي ورسره سرته ورسوي.

پوښتنه :- ایا دغه سناسو د معلوماتو له مخې صحه موده
ده چه شوروییان به ئې هم ومنې ؟

علیخان مسعود :- زه داسې ګمان کوم چه شورویان به خپل
پوځونه د افغانستان څخه وکابزي خو دومره
نه رانه لکه څنګه چه پاکستانیان ئې غواړي
خو زمونږ د ګوند د پاره دا مهمه ده چه د شوروي
پوځونه ووزي او یوځپلواک افغانستان
منځ ته راشي .

شوروي اتحاد زمونږ ګاونډي ملک دي
او مونږ نه غواړو چه د شوروي اتحاد سره تل
د پاره په دښمنۍ کښي او وسیږو او دا هم غواړونه
چه افغانستان د شوروي په ضد یو صحنه
وګرزي .

**پوښتنه :-** تاسي وویل چه نجیب و دهغه ملګري پدې پوه شویدي
چه مارکسیزم لنینزم افغان اولس کم نه کمه په اوسني
وخت کښې نه مني . او اوس دوئ وائي چه ملي
دیموکراتیک انقلاب کوو . ستا په نظریه دوی په دغه
عقیده شویدي . اوکه یو سیاسي تاکتیک دی .
چه ملي لوم ورکول غواړي او هماغه ایډیالوژیکي
بنسټ او هدفونه پر مخ بیول غواړي . ؟

**علي خان مسعود :-** په لومړي سر کښې دوی ځانونه غټ کمونستان
ښودل او فکر ئې کاوه چه کمونیزم به ژر ولې خورېږي
منځ کښې دوی پدې پوه شویدي چه کمونیزم یوازې
د هوړا هوړا نارې ندي .
ښکاره دوی په نظري پړاو کښې و کله چه دوی عمل
پړاو ته ورسیدل دوی ولیده چه دغه کار ترسره
کیدل نه شي . زه داسې ګمان کوم چه دوی پدې
عقیده پیدا کړیده چه په افغانستان کښې یوازې
یو ملي دیموکراتیک انقلاب امکان لري . دوی
پدې پوه شویدي چه افغانستان یو بېرته پاتې هیواد
دی چه په سلو کښې "۹۰" وګړي بې سواده دي او د لسو

زړو ځخه زيات تمرکز نلري - محمد غني يوتن شوروي
پوهان هم وېلي دي چه په افغانستان کښې په اوسني وخت
کښې کلاسيکي سوسيالزم امکان نلري زه پدې عقيده
يم چه سر د اول ځخه شوروي يان دومره ډګمندي تګ
د پاره نه و. ماد فالين (Falin) لوه مرکه کوښتلي ده
چه هغه وېلي دي چه دوئ افغاني ملګروته د دي مسله
ورکړې ده. چه ډګمندي تګ ځخه ځه وکړي خو اوس
د ډرګ کمېدو ځکه چه نجيب لوازې په کابل کښې پاتې
شوي ندي. د نجيب پلار په پښاور کښې وکيل تجار و
نجيب د پکتيا دي. نجيب د کابل په حال هم پوهېږي
نجيب پدې هم پوهېږي چه کوزه پښتونخواه کښې څه
حال دي. پښتانه د تش په نامه ډيورنډ کرښې څخه
خوا څه حال لري. قومي جرګه څه مانا لري. نجيب د ښار
په حالاتو هم پوهېږي. نجيب دغه ډېرې امتيازونه
لري. زه پدې عقيده يم چه دي واقعاً ملي ډيموکراټيک
انقلاب غواړي. ځکه چه واقعيت داسې دي چه سوداګرو
ته ئې آزادي ورکړې ده. دوي ډله ايز شوي ندي.

هر څوک کولی شی چه دوکان پرانیزی هر څوک کولی شی
چه مالونه ولیږی او بائی راوغواړی . څه داسی
نه کوم چه چېری اوسنی وخت کښی نسبت باچاهی
وخت نه سوداگر ډیره آزادی لری .

**پوښتنه** :- تاسی ددی دپاره یاست چه کډه وال بیرته خپل
وطن ته لاړه شی . ؟

**علی خان محسود** :- هغه خو پدی شرط سره چه شوروی اتحاد چې قوه
وائی هماغسی وکړی چه خپل پوځونه وکابزی او ملی
روغه جوړه مخ په وړاندی لاړه شی . نجیب د کډه والو
پرمخ دروازی ونه تړی بلکه په اقتصاد او سیاست
کښی هم ورته برخه ورکړی . که چیرته داسی نه وی
نو نجیب هم پاتی کیدی نه شی او بل څوک هم پاتی کیدی نه
شی . همدغسی شوروی اتحاد به ډیره موده د
افغانانو سره اخته وی . دا لیو قتل دی چه افغانان
په زور سره جنت ته هم نه ځی خو په خوښه دوزخ
ته تیار دی . بله خبره داده چه پښتانه لوانزی په
افغانستان کښی نه بلکه په سنکلته پښتونخواه کښی
هم غواړی چه د افغانستان جگړه پای ته ورسیږی .

په اوسني وخت کښې پښتانه پر کابل کښې او پښتانه په
پېښاور کښې د ایوانانی امکان وینی چه د امریکا ګوتې وهنه
پامې ته ورسیږي او شوروي پوځونو ته د بیرته تګ
امکانات برابر شي که چرته شوروي پوځونه لاړ نه شي
نو مسلې د افغانانو سره دي هر وخت تړې کار اخستلې
شي کله چه شوروي اتحاد دوکه وکړي. خو مونږ پدې
عقیده نه یو چه شوروي به لنډ فکر وکړي او بین المللی
پرستیژ به د لاسه ورکړي. د افغانستان جګړه کومه
اسلامی جګړه نده بلکه افغانی عنعنه ده. مونږ لګ
مسلمانان نه و چه لوی سکندر ته موماتې ورکړه.
ترصفه چه پښتانه وېشل شوي دي په سیمه کښې سوله امکان
نلري. محمد غنی د داؤد د منځ نه تګ سبب داؤ چه
داؤد د دي صحنه وکړه چه د پاکستان د حکومت
ج سره د ګډ کار دلاري د پښتنو رهبره د
منځي لیري کړي محمد غنی اوسني حکومت او راتلونکي
حکومت نه شي کولی چه د غه رهبره د منځه لیري کړي
پښتون سوسیال دیموکراتیک ګوند د دوا یره

خواوښ نمائندګی کوی ـ موږ پدې عقیده یو ترهغو
چې پښتنانه یوځای شوی نه وی سوله نه په کابل
کښې او نه په پښناور کښې امکان لری ـ ځکه چه په پښناور
کښې څه وشی په کابل اغیزه کوی او څه چې په کابل
کښې وشی پښناور بې اغیزې نه دے ـ

**پوښتنه** :ـ که چېرته په افغانستان کښې د پارلمان داسې
ټاکنه وشي لکه څه موده مخکښې چه د المان په اتحادی
جمهوریت کښې وشوه ـ نو ستاسو ګوند به په
شلو کښې څو رائې واخلی ـ

**ستوری** :ـ دا ددې پورې اړه لری ، چه څومره ګوندونه
په ټاکنه کښې برخه لری دوه وی که درې او که لس ـ
مګر سربیره پردې دا ددې پورې هم اړه لری چه
زموږ ګوند هلته څومره سنګاره فعالیت کولی شی
او کوم امکانات لری په اوسنی وخت کښې زموږ ګوند
په افغانستان او کوزه پښتونخواه کښې پټ فعالیت
کوی ـ داچې زموږ ګوند د افغان اولس د ډیرو کی ډهیلو
او ارزوګانو نمایندګی کوی نو به یوه ازاده ټاکنه کښې موږ زیاتو
رائیو د ګټلو امکان کوو ـ

**پوښتنه** :- تاسی د ملایانو د ریږ د روغی جوړی په هکله څنګه ګڼئ؟ - یو برخه د دوی د روغی جوړی په ضد ده او د کډوالو د بیرته تګ مخه نیسی - ؟

**ستوری** :- مونږ د هر ډول زور په ضد یو او هغه کسان چه د کډوالو مخه نیسی چه بیرته خپل وطن ته لاړ شی غندو - افغانانو ته بایده دی چه د دی امکانات ور کړ شی چه خپل راتلونکی پخپله وټاکی او داسی وټاکی لکه څنګه چه ئې غواړی - د مونږ واضحه ده چه زور زیاتی پای ته ورسیږی. مونږ د دی حق لرو چه یو ځل په سوله کښی ژوند وکړو. اته کاله ډیره موده ده - مونږ د سولی ډیره هیله من یو - لدی امله مونږ تل پدی ټینګار هم کوو چه ټولی خواوی بایده دی چه د دغه سولی ملاتړ وکړی. مونږ د اصیله د نړی د ډیموکراتانو نه هم کوو - د افغانانو څخه مونږ غوښتنه کوو چه د دغه امکاناتو څخه کار واخلی او خبری اتری وکړی - خبری اتری د ګډ کار مانا نه لری خو ممکنی له ممکنی څخه د دغه لاری بندول لپکاری ندی

فن وی نه سبا وی پدی لاره به روان یو که چرته

مونږ خپل واک افغانستان غواړو او نو مجبور یو چه

یو ځای شو ونډ وکړو او نو مجبور یو چه پخلا شو.

دا حالت ډیر دوام کولی نشی لیوانی زیاته

وینه به توی شی.

**پوښتنه** :- تاسی د پاکستان د حکومت د رییز د ملی روغی

جوړی په هکله څه اټکل کوی؟

**ستوری** :- د هغه وخت راهیسی چه د افغانستان رهبره

منځ ته راغلی ده نو د پاکستانی جنرالانو غوښتنه

شوی وه او که نه نو جنرال ضیاءالحق به اوس نه وی.

د ملی رهبری دی شونډی ساتلی دی - که چرته دغه

رهبره حل شی نو بیا د دی احتمال شته دی چه جنرال

ضیاءالحق او د ده ډکتاتوری رژیم هم په څو میاشتو

او یا لږو ورځو کښی د منځه لاړ شی. پاکستانی

جنرالان د افغانانو ډیموکراتیک او ملی ګوندونو ته

اجازه نه ورکوی. لیوانی اسلامی ډلوته اجازه

شته دی. کله چه لیوکړوال پاکستان ته راشی

نو مجبور دي چه د لوی اسلامي ډلې غړي شي
او که نه نو په پاکستان کښې اوسیدلی نه شي
له دی امله په سلو کښې "۳۰" کډوال لا تر
اوسه نه دي ثبت شوي - ځکه چه دوی نه غواړي
چه د دغه ډلو غړي شي - دغه کومې نظریاتي
ډلې نه دي - دغه جبري تشکیلات دي چه په
اوتوماتیکه توگه سړي مجبور دي چه د دغه ډلو څخه
د یوې ډلې غړي شي - کډوال په ډېر خراب
حالت کښې ژوند کوي که چېرته د دوی د پاره شرائط
برابر شي چه په درناوي سره بېرته افغانستان
ته لاړ شي - زما خو ښه ارزو ده دغه کډوال
باید ده دي چه حلته خد مختاران نه وي دوی باید
دي چه دغلته په سیاسي، کلتوري او اقتصادي ژوند
کښې برخه ولري. دغه همدغه شان افغانان دي
لکه نجیب او نور افغانان دوی باید ده دي چه په
سیاسي قدرت کښې برخه ولري. دوی باید ده دي چه په
اقتصادي قدرت کښې برخه ولري. بیا نو سړی د
روغې جوړې او گډ ژوند څخه خبري کولی شي -

خبریال . هدایت بنګښ

# په لویدیځ جرمني کښې د خان لالا محمد افضل خان د سفر لنډ رپوټ

په لویدیځ جرمني کښې د پښتنو د ټولنیز اولسولیز ګوند
د مشرانو په بلنه خان لالا محمد افضل خان د ۱۹۸۶ ع کال
د نومبر د میاشتې په ۲۱ نیټه لویدیځ جرمني ته راغی . د
فرانکفورټ په هوائي ډګر کښې د ده هرکلی د ګوند د غړو
او مشرانو او ګڼ شمیر نورو پښتنو له خوا وشو .
خان لالا محمد افضل خان د لویدیځ جرمني په مختلفو ښارونو
کښې د پښتنو د ټولنیز اولسولیز ګوند د غړو او
نورو پښتنو سره د خبرو اترو سربیره د لویدیځ جرمني پارلمان
د وکیلانو ، سیاستمدارانو ، د ام نیسټي انټرنیشنل
د نمائندګانو ، د مطبوعاتو او عامه ژوند د نامتو
شخصیتونو سره لیدنې کتنې او د نظریو بدلون وکړه .
د ۱۹۸۶ کال د نومبر د میاشتې په ۲۹ نیټه د خان
لالا په ویاړ د پښتنو د ټولنیز اولسولیز ګوند
له خوا په فرانکفورټ کښې عمومي غونډه جوړه ه

شوی وه چه په لویدیځ جرمنی کښې ګڼ شمیر او سیدونکو پښتنو
پکښې ګډون کړی و.

دی په هالینډ کښې د لوشیپي څخه وروسته
انګلستان ته لاړ. په انګلستان او سعودیه عربستان
کښې د لږ څه تمید و څخه وروسته پښتونخواه ته ستون شو.



خان لالا محمد افضل خان
(لویدیځ جرمنی، نومبر ۱۹۸۶)

# د خبریالانو وړاندې د خان لالا

## محمد افضل خان وینا بی ۴/۱۱/۸۶

زه د پښتنو د ټولنیز او اولسي لیږکوونکو د لویدیځ المان
د مقیم مشرانو په میلمستیا المان ته د یو پښتون
سیاسي کارکن په حیث په دې غرض را بلل شوی یم چې
نن پښتون قوم د کوم آفت او تباهۍ سره مخامخ دی
د هغې د حل کولو او د لارې را ویستلو د پاره سره خپلو کښې
جرګه او مرکه وکړو ،

د یوې غوړا او تفصیلي بحث نه وروسته مونږ په دې
نتیجه ورسیدو چې دغه مسئله صرف د پښتنو مشرانو
په جرګه حل کیدای شي . د بد قسمتۍ نه پښتون قوم
انګریزانو په خپل استعماري دور کښې په ټکړو کښې ووېشلو
او نه یوازې دا چې پښتون قوم ئې په جغرافیائي طور
تقسیم کړو بلکه د پښتنو په ټولنه کښې ئې یو استعماري

نظام رائج کړو او طبقاتي تفاوت او نفرت پیدا شو.

ددې خرابیو د لرې کولو لپاره باچاخان د مشرۍ او ښې پرښتې لاندې د خدائي خدمتګارانو تحریک په کلنو باندې مسلسل، باچاخان خپلې طبقې له عزت او احترام ورکړو - او دا نارې ئې ورکړه چې "که ښیوړه وي او که پوره وي په شریکه به وي" کوشش وکړو - او اوس ددې نظام د ختمولو لپاره د ثور انقلاب په عمل کښې راغی او مونږ ئې د ډیورنډ لائین نه دواړه غاړه پرتو پښتنو ته انقلاب د پښتون قوم او د ښیمې د آبادۍ او ښوکالۍ لپاره یو نیک فال ګڼلو او ګڼو ئې. خو متاسفانه ددې انقلاب سره سمدستي د سترو قدرتونو سیاست هم زمونږ په خاوره به شدت سره په حرکت کښې راغی.

نتیجه دا شوه چې د آبادۍ لاره یو طرفته شوه او د پښتنو وینه بې ځایه توئیدل شروع شوو. ښیمې ئې ورانه شوه او ورانیږي د بوډاګانو ماشومانو ځوانانو

او د منځو وینه توئی شوه او تو یږي. روغتونونه، ښونځي
او نوري قومي ادارې په بمونو والوزولې شوې او داوي
نظر شوي. دغه شان پښتونخوا وړانه ویجاړه شوه
که څه هم د اعلانات هر وخت همدا عالمي قوتونه
کوي چې د ا مسئله په ټوپک نه حل کیږي د ا صرف
د خبرو د لارې حل کېدای شي خو سره بیا وجود
شاړا چې قوتونو د پښتنو سیمې ته مهلک اولوي
وسلې چې صرف د تباهي او بربادي باعث جوړېدې شي
د خپلو اغراضو لپاره راستوي او اوس د ا تباهي
په پاکستان کښې د اباد و پښتنو خاوره ته هم را
اوختله، هره ورځ بمونه غورځیږي او په شلګونو
بې ګناه خلک قتلیږي، ټوپونه په کورو، روغتون، ښونځي
او تفریح ګاه کښې هم محفوظ نه دي.
بیدې لړ کښې چې لوم مذاکرات امریکا او شوروي
اتحاد کړي دی او کوي ئی او په خاصه توګه د اقوامو
متحده په وساطت (میخ کرنوب) نامخامخ د اخبرې

اتری د پاکستان او افغانستان د نمایندګانو ترمینځ
کیږی ددی لپاره مونږ مرسته کوو او د قدر په سترګو
ورته ګورو. خو زمونږ په خیال ددی بهترینه د حل لاره
داده چې د پاکستان په صوبه پښتونخوا کښې دا بادو
پښتنو د خدمتونو نه کار واخستلی شی نو دا -
مسئله به حل کیدای شی.
دولتونه د ستاسو په ذریعه د عالمی امن او پیوستون
د اصولو په رڼا کښې په سترګو ګورو دا زه در څخه
غواړم چې هغه په پاکستان او افغانستان دا
اثر واچوی چې هغوی دی تر تیاره شی چې د صوبه -
پښتونخوا د مشرانو نه د یو ثالث په حیث کار واخلی
چې هغوی د افغانی لیډرانو د مشرانو سره ددی -
مسئلې د حل کولو لپاره جرګې او مرکې وکړی او
بیا د افغانستان د واکمنانو سره خبرې اترې وکړی
او د دی مسئلې لپاره یو باعزته د حل لاره راوباسی
د پښتنو تاریخ په دی شاهد دی چې ټول عمر د پښتنو

کړکیچینې معملې صرف او صرف د جرګې په لارې حل شوید ی
دا لار زما په خیال د دې مشکلې د زړه حل کولو لپاره
به د طولو زیاته مؤثره وي. ځکه چې دلته فریقین
هم افغانان او پښتانه دي او ثالثان به هم پښتانه
وي چې شریک نسلي، مذهبي، ژبني کلتوري تاریخي
جغرافیاوي او اقتصادي وحدت لري.

دلته دا ویره ده چې که د دې مشکلې حل اوږد شو
لوږن چې په کلونو افغانان په خیمو کښې بې وسه ژوند
تیر کاوي دلته به په یو داسې نسل ځوان شي چې هغه
به د مایوسیو او محرومیو په ماحول کښې رالوی شوی
وي او داسې به هغه د خیمو د لوی شوی فلسطیني -
نسل نه زیات رادیکال وي.

دا به نه یواځې د پاکستان او افغانستان د
سیمې د امن لپاره لویه خطره وي بلکه د عالمي
امن لپاره به هم نه حل کیدونکې مشکله شي.

زه یقین لرم چې دغه کړکیچ کښې به ستاسو اثر او

رشوخ دې برخه وکړي شي.

زه یقین لرم چې تاسو د خپل ذریعۀ ابلاغ په زور عالمي رأی عامه دې ته په مؤثره توګه را ګرزولی شئ چه دا مسئاله د جرګې په ذریعه د خبرو اترو او امن په لاره حل کړې شي.



د خان لالا محمد افضل خان مطبوعاتي کنفرانس په بن کې (۸۶/۱۱/۴)

# د فرانکفورټ په لویه غونډه کښې د افضل خان وینا

(خبریال شید عارف)

افضل خان لمړی تر هر څه د خپلو مشرانو تا دوه سلامونه د آلمان پښتنو ملګروته ورسول. او دوئ ویل چه زه دیو ګوند غړي په توګه چې عوامي نشنل پارټۍ ده دلته راغلی نه یم بلکه د خپلو پښتنو ورور په حیث حاضریم. ده وویل زه همیشه دا خبره کوم چې زه دلته میلمه نه یم او څوک نږ کوم ورونه چې دافغانستان نه راغلي او څوک نږ سره هلته اوسیږي او وائي چې زه مهاجریم. نو مونږ ورته وایو چې ته مهاجر نه یې دا د پښتنو ګډ کور دی او ځکه پښتون نن خوار او زار دی چې دا وحدت نشته. نن چې زه کومې غونډه کې حاضریم چې په فرانکفورټ کې ده ځما د خوشالی انتها ده ځکه په دې غونډه کې د پښتون د وحدت تخم ایښودل شوی دی زه د PSPD د مشرانو نه خوښه کوم چې د دې موقع ئې ساعده کړه چې زه د پښتنو ملګرو سره وپیژنم او په ګډه مسلو خبروته ورسیږو.

مونږ ناخبری په تنزل او زوال کې وساتلو او د پښتنو د تباهي سبب دی مونږ پښتون اباد او آزاد غواړو عظمت او په خپله خاوره کې ئې خپل حاکمیت غواړو. مونږ څوک چې د کوم ځای نه راشي د هغې حاکمیت نه غواړو بلکې دا به زمونږ د زوال نښه وي. پښتانه تر اوسه په خپله ژبه لیکل نشي کولی او دا څمونږ د ناکامي

علت دی . پښتون داسې نه دو پښتون د خپلې ژبې او کلتور سره
د ومره مینه ده چې هر وخت ئې په پښتولۍ سرورکړی او د هر عظیم او
غښتلي دښمن سره یې ټکر کړی مثال ئې انګریز هند فتح کړ د انګریز وینه
تویه نشوه هو دلته داسې ګودر پاتې نشو داسې کلنه و پاتې نشو چې
هلته دی د پښتنو او انګریزانو وینه تویه نشي انګریزان تر کابله لاړه
هو کله چې ژ چې شو نو لو د اکټر براېډن یم ژوبله را ووتو .
انګریز دې غزنګه سرحد قایم کړو یوه کرښه ئې راکښوده د دې کرښې د لاندې
علاقې ته ئې رعیت په انګریزی کې Settle Area وویل
چې پدې کې انګریزانو خپل نظام تعلیم او خپل قانون په پوره توګه نافذ کړو
د دې کرښې نه بره ئې یوه بله کرښه راکښنوده چې هغه د دیورند په کرښه
مشهوره ده . د دې دواړو د کرښو منځ علاقې ته ئې قبائلي علاقه ووی
په دې کې انګریز اجنبي او قبائلي ریاستونه قایم کړه او په دې علاقه
کې انګریز خپل موجودیت د پولیټکل اجنټ په ذریعه ظاهر ولو یا ښودلو .
د شوروی اتحاد سره چې د افغانستان کرښه راکښلې کیده لومړی ئې یو
انګریز چې سایمن نومیده په غاړه کړله د دیورند او آمو ترمنځ انګریزانو
خپله بالا دستی قایم ساتله . موږ د آمو څخه تر اټکه پورې دی نه

پښتونخواه وایو او دی کي ځمونږ یووالی او قوت دی. دا خاوره په تاریخ کي د زرګونو کلونو راهیسي د پښتونخوا په نامه یادیده لکه څرنګه چي احمد شاه بابا وائی

د دهلي تخت هېرومه چي را یاد کړم
ځما د ښکلي پښتونخواه د غرو سرونه

انګریز دولت یو استعماري نظام پرېښود چي دا ځمونږ لپاره نمه خربه ده. د انګریز مطلب داؤ چي پښتانه ئې په طبقاتو تقسیم کړل او کسب ګر پښتانه ئې د پښتونولی نه وویستل او د پښتنو په نظر کي ئې کسب سپک ښکاره کړو.

تر لنه ئې په کسب ګر، میا، ملا تقسیم کړه او د پښتنو وحدت ئې مات کړو. زمونږ سره نور میلتونه هم د زرګونو کلونو راهیسي په پښتونخوا کي اوسي چي دا د پښتنو سره د یو ګل دستي د ګلونو په شان پیوند دي د ګل دستي چي کوم د پنځ ګل وو او توري د هونکي متي وي دا د پښتون وی د غه ګل ئې پاڅې پاڅې کړو د غه پښتانه ئې سره بیل کړل د پښتون د بیا وحدت لپاره قوت لپاره او د لر او بر پښتون د ګټو لپاره به دا استعماري نظام له منځه وړل کېږي او طبقات

په دېنځه ځي . په کوم نظام کې چې یو د بل وينه څښي وحدت نه پیدا کیږي د دې لپاره پاچاخان راپاڅیده او هغه اولنی پښتون دی چې هغه د توري په زور نه هغه د سردار په حيث نه بلکې د پښتون په حیث ئې په مبارزه شروع وکړه هغه کسب گر او پېشه ور خلک نه لکه دیو ورور په شان احترام وکړ او وئې ویل چې تاسو کی گټهنیدي هغه دی چې کار کوی او څه خاوري نه راوړي او بوه نار ه ئې وکړه

لږ سپوره وی او که پوره وی سره په شریکه به وی پاچاخان دغسې د لاندی نه سره چل اولس یو کړ او د انگریز غوندی قوت نه ئې ماتی وکړه .

اوس د ثور انقلاب د دی استعماری نظام د بیخه وړ لو لپاره پیځ نه راغلو داد دی بیمی انقلاب دی د عوام او خلکو اولس انقلاب دی موږ هغه وخت هم دا انقلاب مهم گڼلو او اوس ئې هم گڼو ځکه داتیقین دی چې خلقیان او پرچمیان اوس په یو گونډ کی سره د دی نظام د تمبنگ لو لپاره شریک ولاړ دی د وی بنه او عوالی نظریات لری . او د چل اولس لپاره دا باد ی او سو کالی هلی ځلی کوی . ځکه اوس هم داتیقین دی چې چیدا خلک به دا موجوده پیښي شکل په ښه توگه سره حل کړی . ځکه د هغوی کارونو سیاسی

بصیرت او لاربنوونه لري . هغوی دېر لوستي کسان د دنیا د انقلابونو
نه جنډۍ د هغوی د ګوتو ګوته نه جنډۍ خو که د خپلي سیمي پوښتنه تري
وکړي جنډه نه ئي . اصلي جنډه دا ده چي موږ د خپل چاپیریال څخه جنډه یو
موږ باید د خپل چاپیریال څخه جنډه شو . او خپل وطن د عظمت مقام ته ورسو .
د ثور انقلاب د دوره مهم قدم دي چي د دنیا سامراجي قوتونه سمدستي
په لړزان مشول او هغوی غربي خاوري ته ئي خپل لاس را دښکر را ور شاوه
ځکه دی انقلاب د هغوی ګټي په خطر کي واچولي . د ګوري هغه عرب
چي اسرائيلو ته ئي خپله ځمکه نیولي ده او هېر وخت ئي د بوی هغوی
هم د پښتنو بوچي په شا هغوی خاوري ته را ورسیدل . اسلام د کوم
شي لپاره چي راغلي وو بمري شیخان اوس د هغې په خلاف کار کوي
دوی هغوی دېر منځنګ لاره ونیوله او موږ ته ئي حالات د دوره
خراب کړل چي اوس هرڅه تیاره په نظر راځي . دا هم ښو
چي هغوی نه هم غلطي شوی دی نن د پښتنو سیمه ورانه شوه پښتانه
وژل کیږي او چي ورځ تېرېږي موږ په خپل کور کي کمزوري کیږو او
لوکم قوتونه چي د اسلحې په طور موږ استعمالوي قوی کیږي .
زه نن دی ته حاضر یم چي د ټولو پښتنو سره صرف د نظر او سیاسي ګرم لاري
جنډي وکړم او داپه د اګر کړم چي نن دلته د پښتنو د تباهي مخ نیوي وکړو

او موږ باید خپل اختلافات یو خوا کړو او خپلې مختلفې لارې پرېږدو او یو بل ته رانږدې شو او د وطن د ابادۍ او ازادۍ لپاره لاس ورکړو پښتانه خلکو خو پرېږده چې پښتنې پېغلې هم د هر څه نه مخکې په میدان کې ولاړې وي اړین باید موږ دې جنبش ته را شو چې څنګه کولی شو چې ځان د دې کړکیچ نه خلاص کړو.

پښتانه نسلي، ژبني، مذهبي، کلتوري، جغرافيي او اقتصادي وحدت لري خو بیا هم د ډیورنډ کرښې د لاسه په پنځه دوه نیمه پراته دي د دې تقسیم باوجود هم د پښتون شپونکي او پاونده په دې مجبور دي چې د ژمي په دې کرښې نه راتیریږي او تر هند او ډیره اسماعیل خان ته راځي چې په تاریخ کې ورته میدان وائي او د اوړي به دوی د کرښې نه پورته اوړي او تر فرار او هغه پورې به ځي دا کرښه چې انګریز شل ګونه کاله مخکې راکښلې دي ده. (۱۸۹۵) ثلویښت کاله کیږي چې انګریز په خپله جزیره ورننوتي دي خو موږ لا هم هغسې تقسیم پراته یو. هم موږ مرام او هدف د پښتنو یووالی او وحدت دی. دا هم موږ لېږدي هدف دی.

نن هم موږ او له اوسه مسله دا ده چې د پښتنو وینه توییول ودریږي کورنه وران شول ملکتبو نه وران شول نن د دنیا قومونه سپوږمۍ ته وختل او په فضا کې ګرځي خو موږ خپله د ځان تباه کولو لپاره ملا تړلې

ده. باید موږ نن په دی اړخ پوره غور او سوچ وکړو چی تباهی بنده
شی او د ابادی او سوکالی لار را وباسو. په دی لړکی زموږ پښتانه
ورورونه چی په خارج کی دی او نظریاتی خلک دی ډیر لوی کار کولی شی
تاسی زیاتره لوستی او نظریاتی خلک یئ او تاسی داسی امکانات
لری چی اواز د دنیا ته رسولی شی موږ تاسی هر یو کس دلته د یو غیور
په حیث منو او تاسی کی یو کس هم اواز قدری وکړی نو دنیا تری خبریږی
او س موږ تباه شوی یو او تباه کیږو او څما په نظر هغه رڼا هم راځی چی
هغه د وحدت او کامیابی واضحه رڼا ده هره وینه بیتول ضایع نه ځی ددی
نه ځکه د تیری قربونو څوک نه بی خبر دو او اوس د دنیا د پښتنو په ژبه
نشرات کوی. د تیری قربونو د پښتنو قوم د یو قوم په حیث ویښږید
او د دی سلی د پښتنو د وحدت او یوکید ولپاره د یو ره حده پوری
لاره هواره کړه.

که پښتانه ویښ شول نو دا نظام به ډیر ژر ختم کړی او دا پولی
به د منځه یوسی او که دی اوس هم را ویښ نه شو او س ئی هم طبقات
لری نه کړل نو دا لویه تباهی ده او د بیا امید د کامیابیدو کم کیږی چی
کله د پښتون وحدت وشو نو دغه تباهی به تول له منځه لاړه شی او
د وطن ابادی او سوکالی ته به د دوی فکر شی

د افسوس خبره ده څوموږ چې پهٔ کېږي څوموږ کورونه ورانېږي
خو غږ د جهاد کېږي . زه چې څه ته تلی یم هلته د دنیا مسلمانان سره راغونډ
وي زه په دعوه دا خبره کوم چې د پښتنو په شان اسلام په بل یو قوم
کې هم نشته اسلام حرف زموږ عقیده نه بلکې څوموږ کلتور کې هم شامل
دی نن د مذهب په نامه زموږ وینې توییږي او د مذهب په نامه امداد
څوک کوي ؟ امریکا او د هغه ملګري . ـ جنګ د اسلام دی او
وسله څوک ورکوي ؟ امریکا ، چین ، انګریز ، فرانسه او نور .
هغه عرب چې د دې جنګ لپاره پیسې رارسوي د هغوی حال دا دی
چې بیت المقدس نزی اسرائیلو اخستی دی او جهاد په پښتنو کوي
زه د دې خبرې عرض کول غواړم چې څومره ما د ځوانانو او ښځانو
سره خبرې کړي دي دا د افسوس خبره ده چې د الحولي د مایوسی
خبرې کوي او ځان ډېرې وسه بولي د پښتنو یو متل دی
چې سنډا ګمان جنګیږي - نو چنډه خان ګلبني چخني کیږي
موږ د هر څه نه زیات پښتانه او مسلمانان یو مشکلات به ډېر زیات
وي خو زه دا یقین لرم چې موږ هر یو په ذمه واری راپا څو او خپلو
ذمه واری باندې فکر وکړو او ادا ئې کړو نو دا مشکل به ډېر ژر ردیغه
لاړ شي . د دې لپاره عالمي جرګې هم کیږي .

باچا خان دا جنړه په اول سرکې کړې جنګ د روس او امریکې دی
خو کور په کې د پښتون وران یږي .
د پاکستان اخبارونو د اپروپاګند شروع کړې چې دی د اسلام خلاف
جنړې کوي . اوس خو امریکا او شوروي اتحاد د افغانستان په مسله
جنړې کوي نو دا ښکاره شوه چې په دې مسله کې لوی طاقتونه براه
راست ملوث دي . ددې مسلې د حل کولو لپاره چې امریکا او شوروي
کومې جنړې کوي او یا پاکستان او افغانستان په جینوا کې د کوردویز
په ذریعه بالواسطه د افغانستان د مسلې د سوله ایز حل د راایستلو لپاره
جنړې اتړې کوي نو بیا ددې دواړو قدرداو منځ کور . خو وایو دا د
دوی مسله نه ده که دا مسله نوره هم اوږده شي نو بیا لپاره به
نور مشکلات هم راپیدا شي . نن زموږ ورونه په خیمو کې اوسي او د هوی
په سر د ګونډونو مشرانو په مالونو کې ژوند کوي . او اوس که ددې مسلې
حل پیدا نشو نو په دغه کې به یو داسې نسل ځوان شي چې د هغه فلسطیني
نسل چې په خیمو کې رالوی شوی دی نه به هم زیات رد کیال وي او
دا به نه یوازې د پاکستان او افغانستان د ابادۍ او سولې لپاره یو
لوی خطر وي بلکې د عالمي امن لپاره به یو لوی تاوان وي او عالمي دهشت ګرۍ
به لا زیاتې شي دلته موږ د فلسطینیانو د حقوقو څخه پوره ملاتړ کوو ځکه چې

ددغه ظلمیانو لپاره جهت داستوګنی ځای نشته اوحقوق ئې

غصب شوي دي .

دافغانستان دسلی دزرحل کولو لپاره موږ اسانه لاره په ګوته کوو

اوهغه داده چې په دی لمړ کی دی په پاکستان کی دپرتو پښتنو د

مشرانو دجرګی نه کار واخستلی شی . ددی جرګی غړی به هم پښتانه

وی اودجګړې فریقین هم پښتانه دی ددی لولودود دستور

او تېره یوه ده . دپښتنو دسدود رواجیی کړکیچی مسایلی حرف د

جرګی په لاری په سوله ایزه توګه سرته رسیدلی دی داجرګه به اول دیو

فریق سره جرګه اومرکه وکړی اوچې یوی روغی ته ورسیږی نوبیا به

دبل فریق سره جرګه اومرکه شی څوداچې کله لوی لماقتونه ونهغواړی

نواسانه نه ده چې څلکی ښکاره جنړه ده چې څومره په وینه هغوی خپل

عالمی سیاست چلوی دابه هیڅله سرته رسیږی چې لوی لماقتونه په

پاکستان اوافغانستان اثر واچوی چې دی جرګی نه لاره هواره

کړی . باچاخان څوځلونه خپلی هم ددی جرګی لار ښودلی ده اود

افغاني کېدوالو مشرانو نه ئې ویلی وه چې سره کښینو اوددی فساد د

ختمولو لپاره سره په جرګه یو حل راوباسو چې کوم لږ دیر مشران

دباچاخان په دی غوښتنه جرګی ته راغلل نو په پاکستان کی د

هغوی راشنونه میدشول اودپاکستان پټه پولیس په هغې پسې

شول .

همدا وجه ده چې زه ددې تجویز پېش کولو لپاره المان ته راغلی یم او که نه د جرګې ممبران هم په پاکستان کې دي افغان کډوال هم په پاکستان کې دي او د افغانستان خلک او والمن هم زیاتره په پوله پراته دي خو ظاهره ده چې دا لاره حیله کامیابېدی شي چې په لویو طاقتونو کې د عالمي رائ عامه له طرفه زور واچول شي چې هغه د افغانستان د مسلې د سوله ایز حل لپاره په خپله اماده شي او په پاکستان او افغانستان داسې اثر واچوي چې دې جرګې ته لارې چارې جوړې کړي . که دا طاقتونه په رښتیا د بې وسه انسانانو وینه تویېدل بندول غواړي نو زه یقین لرم چې دا جرګه به په سوله ایزه توګه د افغانستان مسله ډېر ژر حل کړي .

دلته زه د المان او دې خلکو او د دنیا نورو مهذبو او اولسي جمهوري ګوندونو ته دا توقع ساتم چې هغه دې کړي په عالمي طاقتونو د اثر غورځولو لپاره خپلې هلې ځلې وکړي او د خپلو پښتنو وروڼو چې په آلمان کې او نورو یورپي او بهرني ملکونو کې دي د هغوی نه دا کلک امید لرم چې هغه د هر څه نه اول د خپل تام او د ولس د خلاصون او سوکالي لپاره خپل ټول کوښښونه پیل کړي چې د مهذبې دنیا

دغه انسان دوست او غریب پال لاقتونه راپاڅوي
زه په آخره کې بیا د پښتنو د ټولنیز ولسولیز ګوند د مشرانو څخه د
عوامي نشنل پارټۍ لخوا او د دهقان لخوا ستاسي څخه غوښتنه کوم
چې په دې غونډه کې مو برخه اخستې ده او زه په دغه لاره کې د ټول
لپاره د قربانۍ لپاره حاضر یم.




خان لالا محمد افضل خان په فرانکفورت کې د پښتنو په لویه غونډه کې
(۱۹۸۶/۱۱/۲۹)

# د خوا بخلی افضل بنګښ په یاد

پښتون سیاست مدار افضل بنګښ په پېښاور کښې د ۱۹۸۶ کال د اکتوبر په ۲۹ نیټه خاورو ته وسپارل شو. د ده د ښخولو په مراسمو کښې د لرې او برې پښتونخواه زیات شمېر نامتو شخصیتونو برخه اخستې وه.

افضل خان بنګښ د مزدور کسان د پارټۍ بنسټ اېښودونکی او مشر و. د پښتنو د آزادۍ او سوکالۍ د پاره ئې نه هېرېدونکي خدمتونه کړي دي. د پښتنو لوټېز او سولیز ګوند د افضل بنګښ مړینه د پښتنو اولس د پاره یو نه پوره کېدونکی تاوان ګڼي. او د ده د خپلوانو او رشته دارانو سره خپله همدردي او خواخوږي ښکاره کوي. افضل بنګښ د پاکستانې ډکټاتورانو او جنرالانو د زور زیاتي او ظلم له کبله داخېل شو ژوند آخرنۍ شپې په جلاوطنۍ کښې په انګلستان کښې تېرې کړې دي. د غلته هم ده د قام او وطن خدمت ته ملا تړلې وه. او د ۱۹۸۵ کال د اګست په میاشت د سندیانو، بلوڅو او پښتنو د

د فرنټ (جبهې) بنیاد کیښود. او د وفات څخه لږ موده
مخکښې کوزې پښتونخواه ته لاړه. د افضل بنګښ ښروند او
تاریخ په څو ټکو کښې راغونډیدای نه شي بلکه کتابونه غواړي.
مونږ دلته د ده پخپل لاس د لیکل شوي شخصي (ذاتي)
لیک یوه برخه چه د ۸۵-۱۲-۱۹ کال کښې د برمنګهم
څخه د پښتنو ټولنیز اولسولیز ګوند مشر ډاکټر
ستوري ته رالیږلې او خپرو.

دی د خپل لیک په یوه برخه کښې لیکي.

"زمونږ سیاست په موجوده وخت کښې قومي طرف ته
روان دی. زمونږ د ګوند مزدور کسان پارټۍ دا خیال
دی چه پاکستان کښې څلور بنیادي تضادات دی، یو تضاد
قومي تضاد دی. بل طبقاتي تضاد دی. بل د اولس
او نظام ترمنځه جمهوري تضاد دی او بل د پاکستان
او استعمار ترمنځه تضاد دی. دې څلورو تضادونو
کښې کله یو تضاد اولیت حاصل کړي کله بل تضاد.
خو څلور واړه تضادونه په یو وخت کښې موجود دي.
نن صبا قومي تضاد او جمهوري تضاد اولیت حاصل کړیدی
او دوی کا په شا استعماري تضاد هم ولاړه دی. زمونږ

د قومي تضاد د حل کولو د پاره د کنفدریشن تجویز وړاندې کېږدي. زمونږ خیال دی چه پاکستان څلورو واړه قومونو (پنجابیان، سندهیان، بلوڅو او پښتنو) ته مکمله خودمختاری او حکومت (Autonomy & Sovereignity) حاصله شي. زمونږ څلورو واړه قومونه د برابرۍ په اساس یوځائې شي وندکولی شو - خو دا یو ډیر مبهم تجویز دی. او پنجابیان او عسکریان ئې په آسانه نه مني لوکه په آسانه نه مني نو بیا چه دی به ضرور جنګ کیږی. د پښتنو لونیز او لسولیز ګوند د اروابنام روح ته یوځل بیا دعا کوي.

خبریال: سید عاشق الله

# نوی ښامهی

کولن :- وروسته د صفحی چه د افغانستان د خلک د ډیموکرتیک ګوند د عمومی منشی ډاکټر نجیب په بلنه د پښتنو د ټولنیز او ولسولیز ګوند یوه ډله ګی د ګوند د مشر د لومړی مرستیال علی خان محسود په مشری د ۱۹۸۶ ع کال د نومبر په میاشت کښی په کابل کښی د افغانستان د خلک د ډیموکراتیک ګوند د عمومی منشی ډاکټر نجیب، د قومونو او قبائلو د چارو د وزیر سلیمان لائق د سیاسی دفتر د غړی ځیری او د دغه ګوند د نورو شخصیتونو سره د افغانستان د راتلونکی په باره کښی د نظریو بدلون وکړ . د ډاکټر نجیب له خوا د پښتنو د ټولنیز او ولسولیز ګوند مشر ډاکټر ستوری کابل ته د خبرو د پاره میلمه شوی دی . ډاکټر کبیر ستوری دغه میلمستیا منلی او د روان ۱۹۸۷ ع کال د اپریل په میاشت به د ډاکټر ستوری په مشری د پښتنو د ټولنیز او ولسولیز ګوند یوه ډله ګی د افغانستان د خلک ډیموکراتیک ګوند د مشرتابه سره د خبرو د پاره کابل ته رالیږه شی

پښناور :- د روان کال د مارچ د میاشتې په اوومه نیټه په پښنور کښې د ارباب سکندر خان خلیل د شهادت څلورم تلین د اروا ښاد په پلرنی هدیره کښې ولمانځل شو.

د لمانځلو په غونډه کښې د پښتنو ستر ملی مشر باچا خان "فخر افغان" او د عوامی نیشنل پارټی مشرانو او د پښتون ستوډنټس فیډریشن شاګردانو او د لری او بری پښتونخوا نورو کښی شمیر نامتو شخصیتونو ګډون کړی و. د تاو دو وینا کوالو څخه وروسته د اروا ښاد په قبر باندی د ګلو لوګیډی او څادری د غونډه وال شوی.

د پښتنو د لیکوالنیو او لیسوالیز ګوند استاذی په دغه تلین کښی د ګوند د مشر ری پیغام زمه وار وکسانو ته ورساوه. زمونږ ګوند یو ځل بیا خپله خواخوږی د اروا ښاد سکندر خان خلیل کورنی سره شریکاره کوی. او د اروا ښاد روح ته دوعا کوی.

کولن :- د پښتنو د لیکوالنیو او لیسوالیز ګوند مشرتابی د ګوند وسلوال ځواک "ننګیالی پښتون" ته سپارښت کړی دی چه د پښتنو د دود دستور سره سم د افغانستان د حکومت د سولی او

او بند پیشنهاد اومنی -
د پښتو لوټلنیز او ټولیز ګوند د افغانستان د لانجې
د حل او د شوروي پوځونو د وتلو د پاره روغه جوړه
یوازنی امکان ګڼي . لدې امله د افغانستان د
و ګړو د روغې جوړې د پیشنهاد هر کلی کوي -

---

## شاعرته -

تا خوشحال یو د غالتول ئې . زړغون شوې پښتونخوا کې
شګوفه دې وښکلاهم . ده صفه پاکه هواکې
نه د چا د ښکرې ګل شوې . نه وربل هم د لیلاکې
د ناپوه ملیار و لاسه . ننوتې پیروت په ارویاکې
چه نه کله نرمه ته خیبر شې . د ره تا وائې په ژړا کې
ته خوشحال د پښتونخوائې . څو ځلیزه پښتونخواکې
لدې شرونده د پرد لیسه
مبنه ده مېړینه سر بناکې

" ساپي "

## د سور پوښانو دود

